اباديي اوونیزه
هفته نامه آبادی
ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ګڼه: ۴۱ | مسلسل نمبر: ۸۳
شنبه، د رجب المرجب ۲۴مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خوست ولایت کې د فاضلانو د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ



۲ صفحه

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په کابل کې د قطر له شارژدافیر سره وکتل



۲ مه صفحه

## د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري پر یوشمېر موضوعاتو بحث وشو



۳ مه صفحه

# سرلیکنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ کال د سـلواغې میاشتې په څلورمه نېټه په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د قطر سفارت له شارژدافیر ښاغلي دکتور مُردِف القاشوطي سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو د کابل او دوحې ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراخولو په اړه خبرې وکړې.

په کتنه کې په افغانســتان کــې د پانګونې د موجوده فرصتونــو، د کابل او دوحې ترمنځ د مســافر وړونکو او کارګو الوتنو پر زیاتوالي، د قطر هېواد له لوري د کندهار په میرویس روغتون کې د ۴۰۰ نویو بسترونو جوړولو، په تعلیمي برخه کې د همکارۍ او همدارنګه له افغانانو سره د مرســتو په موخه په کابل کې د قطر خیریه بنســټ د فعالیت په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې.

په دې لیدنه کې مهم ټکي د دوه اړخیزو اړیکو پراختیا، په افغانســتان کې د پانګونې شــته فرصتونه، د مسافر وړونکو او کارګــو الوتنو زیاتوالی، د روغتیا او له افغانانو سره د مرستو له پاره د قطر هېواد د خیریه بنسټ جوړول وو. اسلامي امارت تل هڅه کړې چې نړۍ له هېوادونو سره خپلــې نړیوالــې اړیکــې پراخــې او پرمټ یې د افغانســتان اقتصاد پیاوړی، بهرنۍ پانګونه راجلب، د اقلیمي بدلونونو له امله د اوښــتو زیانونو د مخنیوي او د همدې اړیکو له لارې د زیربناوو د رغونې او پرمختیا په برخه کې مرستې ترلاسه کړي. د دې هېوادونو له جملې څخه یو هم قطر هېواد دی.

اوس که قطر هېواد په افغانستان کې پانګونه وکړي، نو له دې سره به هېواد ته بهرنۍ پانګه راجلب شي او د پانګــې پــه زیاتوالي سره مــوږ کولای شــو، د هېواد زیربناوې جوړې، صنعت پــراخ، کرنې ته وده ورکړو او سوداګري مو پرمختګ وکړي. د دې ګټه به دا وي چې د زیربنــاوو په جوړېـــدو سره به له یوه لــوري د هېواد اقتصـــادي پرمختـــګ ګړندی شي او له بــل لوري به هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي. د مسافر وړونکو او کارګو الوتنو په زیاتوالي به د هېواد په هوایي ترانسپورټ کې پرمختګ رامنځته او دغه راز د هېواد ځینې صادراتي توکي به له همدې لارې نړیوالو بازارونو ته لار ومومي. د هېواد په روغتیایي برخه کې به د قطر په مرستې سره د هــېــواد عامې روغتیا ســکتور هم پرمختـــګ وکړي او هېوادوال بـــه د درملنې په موخه نورو هېوادونو ته له تګ څخه خلاص شي. د خیریه بنسټ په جوړېدو سره به د هېواد بې وزله خلک د خپل ژوند د پرمخ بیولو له پاره څه ناڅه مرستې ترلاسه او خپلې ورځنۍ ستونزې به پرې هوارې کړي.

اســلامي امارت چې په هېواد کې د پانګونې له پاره ډېر فرصتونه رامنځته او پانګوالو ته یې اســانتیاوې برابرې کړې دي، یـــو لامل یې دا دي چې غـــواړي د کورنۍ پانګې ترڅنګ بهرنۍ پانګه هم راجلب کړي. که په ننني نړۍ کې وکتل شي نو د نړۍ هر هېواد هڅه کوي چې پانګه جذب او پرمټ یې خپل اقتصادي ســکتورونه په پښو ودروي. اوس هم که قطري پانګوال په هېواد کې پانګونه وکړي، نو د افغانســتان تولــې زیربناوې چې د اشغال له امله له منځه تللې دي، جوړې او په مرسته به یې د هېواد اقتصاد پرمختګ وکړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خوست ولایت کې د فاضلانو د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ کال د مرغومي میاشتې په ۲۹مه نېټه په خوست ولایت کې د جامعه مظهر العلوم نیازي د فاضلانو د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ. د دستاربندۍ په یادو مراسمو کې د اسلامي امارت يوشمېر مسوولينو، علماوو، مشايخو او د سيمې اوسېدونکو هم ګډون کړی وو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یادو مراسمو ته د خپلې وینا پر مهال وویل، د اسلامي تاریخ په اوږدو کې مدارس د ديني علم، جهاد، نبوي اخلاقو د ترسيخ، د ديني شعور او هويت ساتنې په برخه کې فعال مرکزونه پاتې شوي او ټولنو ته هغه هستۍ وړاندې کوي چې رسول‌الله (ص) خپل وارثان بللي او امت ته د اخلاقو او نبوي چلند معيار ګرځي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، په افغانستان کې د مقدس جهاد د فرضيت اسلامي روايت په مدارسو کې په رښتيني بڼه ظهور وکړ، دا روايت له مدارسو را وټوکېد، کليو او ښارونو ته يې سرايت وکړ او په داسې دوامداره مقدسه مبارزه بدل شو چې سترو کفري لښکرو ته يې شرموونکې ماتې ورکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ديني مدارسو له مسوولينو او فارغ شوو فاضلانو څخه وغوښتل چې د وعظ او منبر ژبه نوره هم نرمه او ښايسته کړي، د ديني مکلفيتونو ترڅنګ خلکو ته د اسلامي نظام او ملي ګټو د ساتنې روحیه او فکر ورکړي، له خلکو سره د نبوي اخلاقو په چوکاټ کې برخورد وکړي، په خپل علم عمل او په خپله برخه کې لا ډېره مطالعه او پرمختګ وکړي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه: «تاسې ته ښه معلومه ده چې اوس د ټکنالوژۍ دور دی؛ کوشش وکړئ چې له معاصرو زده کړو او اړتیاوو سره هم ځانونه بلد کړئ، څو په واقعي ډول د دين او ولس خدمت وکولای شئ او ولسونو ته ديني شعور او فهم په معاصره او قابل فهم ژبه انتقال کړای شئ.»

محترم ملا صاحب د هېواد اقتصادي وضعيت ته په اشارې سره وویل، له نېکه‌مرغه د هېواد په کچه د اقتصادي ودې په برخه کې اوسمهال ډېرې مهمې ملي پروژې او کارونه روان دي، د نړۍ له هېوادونو سره تجارتي اړيکې پراخې شوې، داخلي توليداتو ته مناسب بازارونه موندل شوي او د اماراتي منابعو د غوره مديريت لپاره په مهمو ملي پلانونو او ستراتيژيو کار روان دی.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو فارغو شوو فاضلانو او د هغوی محترمو کورنيو ته مبارکي وويله او له هغوی يې وغوښتل چې له خپل علم څخه د دين، هېواد او د دې شريف ولس د خدمت لپاره ګټه واخلي.

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په کابل کې د قطر له شارژدافیر سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ کال د سلواغې میاشتې په څلورمه نېټه په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د قطر سفارت له شارژدافير ښاغلي دکتور مُردِف القاشوطي سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو د کابل او دوحې ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراخولو په اړه خبرې وکړې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د مذاکراتو پر مهال د قطر له کوربه توب څخه مننه وکړه او د قطر له دولت او پانګوالو يې وغوښتل څو په افغانستان کې د پانګونې له

موجودو فرصتونو اســتفاده وکړي او په دې اړه اسلامي امارت د پــوره همکارۍ ډاډ ورکوي. د قطر شــارژدافير ښاغلي مُردِف القاشوطي د خپلو خبرو پر مهال وويل، قطر له افغانستان سره د دوه اړخيزو اړيکو پراخولو ته لېواله دی. ښاغلي القاشوطي زياته کړه، دوی د دوحې او کابل ترمنځ د مسافر وړونکو او کارګو الوتنو پر زياتوالي کار کوي او همدا راز به د قطر دولت له لوري په نږدې راتلونکې کې د کندهار په ميرويس روغتون کې د ۴۰۰ نويو بسترونو جوړولو کارونه هم عملاً پيل شي. نوموړي وويل، قطر له افغانستان سره په تعليمي برخه کې همکارۍ ته چمتو دی او همدارنګه به له افغانانو سره د مرستو په موخه په کابل کې د قطر خيريه بنسټ هم فعاليت پيل کړي.

## د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې له لوري پر يوشمېر موضوعاتو بحث وشو



د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۳ کال د ســلواغې مياشــتې په لومړۍ نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره ســم پر ټاکل شــوو موضوعاتو بحث وشــو. دې غونډې ته د اوبو او برېښنا توليدي بندونو د ســاتنې او څارنې، د اوسپنې، سرب او جســتو، مرمر، ګچ او نفرايټ ډېرو د يوشمېر قراردادونو د ارزونې راپورونه وړاندې شول. ياد راپورونه له تحليل او ارزونې وروســته تاييد او د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شول.

## د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې له لوري د پانګونې پر يوشمېر طرحو بحث وشو



د پانګونې بين‌الــوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ کال د ســلواغې مياشــتې په دوهمه نېټه په مرمرينــه ماڼۍ کې تــرسره او له اجنډا سره ســم د خصوصي ســکټور له لوري د پانګونې وړاندې شــوو طرحو په اړه بحث وشــو. دې غونډې ته په کابل او بلـخ ولايتونو کې د ســوداګريزو مارکېټونو، په کابل ولايت کې د ميوې او سبزۍ لپاره د مارکېټ او همدا راز د رســمي اســنادو د ثبــت او تاييد پــه موخه د برېښنايي سيستم جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شــوې. په غونډه کې له مفصل بحث وروسته ټاکل شــوو کمېټو ته د دندې وسپارل شــوې څو د طرحو له وړانــدې کوونکــو شرکتونو سره تخنيکي مجلســونه تــرسره او راپورونه يې په ټاکلو نېټــو د پانګونې بين الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## اســلامــــي امــــارت دکورنيو توليــداتو د پياوړتيا لپاره ګوتلي ګامونه اخيستي دي

اســلامي امارت په ۲۰۲۴کال کــې د نورو برخو ترڅنګ د کورنيــو توليداتــو ودې او پراختيا ته ځانګړې پاملرنــه کړې ده. دلته يــې څينو ته د بېلګې په ډول اشاره کوو:

د کورنيو توليداتو ملاتړ: د اسلامي امارت له خوا د کورنې توليد د ودې لپاره هڅې کېږي چې په دې کې د کرنيزو محصولاتــو، صنعتي توکو او لاسي صنايعــو پراختيا ته ځانګړې پاملرنه شــوې ده. د کرنې په برخه کې د اوبو لګولو سيســتمونو د ښه والي، د کرنيزو توکو د پروسس فابريکو جوړولو او د بزګرانو لپاره د اسانتياوو رامنځته کولو په برخه

کې اساسي کار شوی دی.

د توليدي بنسټونو ملاتړ: د توليدي بنسټونو او فابريکو د جوړونې او بيا رغونې په برخه کې اسلامي امارت له خصوصي سـکټور سره په ګډه اړين اقدامات کړي دي. د دې ترڅنـګ د توليدي فابريکو لپاره له کورنيو منابعو څخه د اسـتفادې په برخـه کې هم پرمختګ شوی دی.

د صادراتو زياتوالی: د کورني توليد د ودې يوه مهمه برخه د صادراتو زياتوالی دی. اسلامي امارت هڅه کړې چې د کورنيو توليداتو لپاره په کور د ننه او بهر کې بازارموندنه وکړي او د صادراتو لپاره د اړتيا وړ اسـانتياوې رامنځته کړي. په دې برخه کې د توليداتـو پر معياري کولو، د سوداګريزو اړيکو پر پراختيا او د ګمرکي پروسو ساده کولو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

د خصـوصي سـکټور هڅونـه: اسـلامي امارت د خصوصي سکټور هڅونې لپاره ځانګړې تدابير نيولي دي. پـه دې برخه کې د پانګونې لپاره د اسـانتياوو رامنځته کول، د امتيازونو ورکړه، د خصوصي شرکتونو د ملاتړ لپاره د قوانينو ساده کول او د خصوصي

سکټور ستونزو ته رسېدنه شامل دي.

په ټوله کې، اسلامي امارت د کورنيو توليداتو د ودې لپاره کوټلي ګامونه اخيستي دي چې د اقتصادي ځان بسياينې، د صادراتو د زياتوالي، او د هېوادوالو د ژوند د سطحې د لوړولو لپاره ګټور تماميدای شي.



## اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

### عبدالکریم فاتح: سروی دهلیز واخان تکمیل و طراحی آن در جریان است

عبدالکریم فاتح معین وزارت فواید عامه، می‌گوید که کار سروی دهلیز واخان بدخشان به پایان رسیده و اکنون کار روی طراحی این پروژه جریان دارد. آقای فاتح گفته که این وزارت آماده است تا پس از منظوری بودجه از سوی رهبری امارت اسلامی، کار عملی ساخت‌وساز آن را آغاز کنـد. معین تخنیکی وزارت فوایـد عامه گفت: «برنامه امسال تنها شـامل سروی و طراحی بود که عملی شد، سروی اساسی انجام شد، تیم مربوطه بازگشت و گزارش خود را ارایه کرد. در حال حاضر، کار روی طراحی جریان دارد و ما برای سـال آینده آماده‌ایم تا با هدایت رهبری و منظوری بودجـه، کارهای عملـی آن را آغاز کنیم.» بر اسـاس اطلاعات وزارت فواید عامه، آغاز کار عملی راه های بدیل در شـاهراه‌ها، جاده زابل تا پاکستان و جاده جدید از قندهار تا حیرتـان در ولایت بلخ، از برنامه‌های مهم دیگر این وزارت هستند.

### اذربايجان کې د افغاني محصولاتو نندارتون په جوړولو هوکړه شوې

کابل کې د اذربايجان سفير الهام محمدوف د صنعـت او سـوداګرۍ لـه سرپرسـت وزير نورالديـن عزيـزي سره کتـلي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي، په دې کتنه کې دواړو لورو په اذربايجان کې د افغانستان د توليداتو او محصولاتو د نندارتون په جوړولو او د دواړو هېوادونو د صادراتي توکو د لېست په شريکولو هوکړه کړې ده. ياده کتنه کې دغه راز د دواړو هېوادونو ترمنځ د شـويو هوکړو د پلي کولو، د دوه اړخيـزې سـوداګرۍ د زياتولـو، لـه اذربايجـاني سـوداګرو او پانګه‌والو سره په افغانسـتان کـې د پانګونـې د فرصتونـو د شريکولو او د لاجورد لارې د فعاله سـاتلو په اړه خبرې شوې دي.

### لغمان کې د صنعتي پارک لپاره ۱۰۰۰ جريبه ځمکه ځانګړې شوې

د لغمان ولايت ځايي مسـوولين وايي چـې د دغه ولايت په قرغيو ولسوالۍ کې د صنعتي پارک لپاره ۱۰۰۰ جريبه ځمکه ځانګړې شوې ده. دغه ځمکه د قرغيو ولسوالۍ په خير خېلو ګردي کڅ سيمه کې د کابل – جلال اباد پر لويه لاره ځانګړې او تثبيت شوې ده. سرچينې ويلي، د دې اقدام موخه صنعتکارانو ته د کاري زمينې برابرول او د اقتصادي اسانتياوو زياتول دي.



## له روسيې سره د سوداګرۍ په برخه کې پرمختګونه شوي

د افغانسـتان او روسيې ترمنځ د سـوداګرۍ په برخه کې پرمختګونـه شـوي او دا کچه مـخ په لوړېـدو ده. دغه څرګندونې په کابل کې د روسيې سفير د کار او ټولنيزو چارو له سرپرست وزير سره په کتنه کې کړې دي. د کار او ټولنيزو چارو وزارت وياند سميع الله ابراهيمي وايي، په دې کتنه کې د کار او ټولنيزو چارو سرپرست وزير ويلي، اسلامي امارت د سيمې او نړۍ هېوادونو سره د متقابل احترام او ملي ګټو په پام کې نيولو سره د تعامل غوښتونکی دی.



# تلاش‌های حکومت و سکتور خصوصی در رشد تجارت افغانستان

نجیب الله مایار

### مقدمه

سـکتور خصوصی مجموعه ی فعالیت و معاملات است که توسـط اشخاص، و تصدی ها به اساس توانایی اقتصادی و فزیکی آنها صورت می گیرد." کلمه سکتور در لغت به معنای بخش و آنچه غیر دولتی بوده به شکل خصوصی فعالیت کند، سـکتور خصوصی است. سـکتور خصوصی یکی از ارکان حیاتی و مؤثر در اقتصاد هر کشور به شمار می‌رود. این بخش به طور عمده شامل شرکت‌ها، کمپنی ها و کسب و کارهایی اسـت که تحت مالکیت خصوصی قرار دارند و با هدف تولید اجناس و خدمات برای بازارهای داخلی و بین‌المللی فعالیت می کنند. رشـد تجارت یکی از ارکان اساسـی توسعه اقتصادی اسـت و کشورهای مختلف با اسـتفاده از ابزارهای مختلف تلاش در افزایش تبادل اجناس و خدمات با دیگر کشورهای جهان دارند. در این جریان، نقش دولت و سکتور خصوصی به طور مستقیم و غیرمستقیم حائز اهمیت است. همکاری این دو بخش می‌تواند تأثیرات مثبت بر تجارت بین‌المللی، ایجاد زیر بناهای لازم و فراهم آوردن بسـترهای مناسب برای رشد پایدار اقتصادی داشته باشد. افغانستان به عنوان یک کشور در حال توسعه، با چالش‌ها و فرصت‌های زیادی در زمینه رشد تجارت مواجه اسـت. از سـوی دیگر، تلاش‌های دولت و سکتور خصوصی به منظور ارتقاء تجارت و اتصال به بازارهای جهانـی، می‌تواند به بهبـود وضعیت اقتصـادی و تجارتی افغانستان کمک کند. در این نوشته به بررسی نقش مشترک حکومت و سـکتور خصوصی در رشـد تجارت افغانستان و چگونگی تعامل این دو بخـش در بهبود شرایط اقتصادی و تجارتی می‌پردازیم.

### نقش سکتورخصوصی در رشد تجارت در کشور

سـکتور خصوصـی که یکـی از فکتور های اصلی رشـد اقتصادی است از طریق سرمایه‌گذاری، ایجاد کار و تولید ثروت، به افزایش تولید ناخالص داخلی (GDP) کمک می کنـد. فعالیت‌های تجارتی در این بخـش موجب افزایش مفیدیت و ایجاد ابتکارات جدید در صنایع مختلف می‌شود. این امر نه تنها موجب رشـد اقتصـادی در کوتاه‌مدت می شود، بلکه ظرفیت توسـعه پایدار را در بلندمدت نیز فراهم می‌آورد. سـکتور خصوصی به عنوان یکی از ارکان کلیدی اقتصاد، نقش مهمی در پروسـه های تجارتی ایفا می‌کند. سـکتور خصوصی به طور مسـتقیم با بازارهـای داخلی و خارجی در ارتباط اسـت و از طریق فعالیت‌های اقتصادی، تجارت را رونق می‌دهد. سـکتور خصوصی به دلیل رقابت شـدید در بازارها، همواره به دنبـال نوآوری و بهبود کیفیت محصولات و خدمات خود است. این رقابت موجب افزایش مفیدیـت و کاهش مصارف می‌شـود و کالاها و خدمات با کیفیت‌تـر و ارزان‌تر به بـازار عرضه می‌شـود. ابتکار در محصولات می‌تواند به رشد تجارت کمک کند و کشورهای مختلف را قادر می‌سازد تا در بازارهای جهانی رقابت کنند. ایـن بخش با ایجاد کسـب‌وکارهای صادراتـی و ورود به بازارهای بین‌المللی به رشـد تجارت کمک می‌کند. شرکت های خصوصی از طریـق تولید کالاهای صادراتی و جذب تقاضا در خارج از کشـور، نه تنها به رشـد تجارت داخلی کمـک می‌کنند، بلکـه روابط تجارتی با دیگر کشـورها را گسـترش می‌دهند. این تعاملات موجب انتقال تکنالوژی می‌شود که به رشد صنعتی و تجارتی کمک می‌کند. شرکت هـای خصوصی معمولاً به عنوان چرخ اصلی ایجاد فرصت های کاری در کشـورها شناخته می‌شوند. این اشتغال‌زایی موجب افزایش مـصرف کالاها و خدمات داخلی شـده و تقاضا برای صادرات را نیز افزایش می‌دهد. رشد اقتصادی به نوبـه خود به افزایـش حجم تجارت و تنـوع کالاها و خدمات تجارتی منجر می‌شـود . شرکت‌ها و کمپنی های خصوصی از طریق جذب سرمایه‌گذاری خارجی و همکاری با سرمایه‌گذاران بین‌المللی می‌توانند توان اقتصادی خود را تقویـت کرده و ظرفیت‌های تجارتی جدیدی را ایجاد کنند. سرمایه‌گـذاری خارجی می‌تواند با ایجاد زیربناهای جدید، نوآوری‌های تکنالوژیکی و توسعه بازارهای جدید منجر شود که تمامی این عوامل در نهایت به رشـد تجارت کمک می کنند. بخش خصوصی افغانسـتان در راسـتای توسـعه تجارت، در تلاش است تا محصولات خود را متنوع‌تر کرده و کیفیـت آنها را بـالا ببرد. بـه عنوان مثـال، برخی از تولیدکنندگان افغان در بخش صنایع دستی و تولید





محصولات زراعتی با استفاده از تکنالوژی های جدید، توانسته‌اند کیفیت محصولات خود را ارتقا دهند و به بازارهای منطقه معرفی کنند. با توجه به رشد تکنالوژی های دیجیتل و انترنت، خصوصی افغانستان توجه ویژه‌ای به تجارت الکترونیک شده است. برخی از کسب‌وکارهای خصوصی در افغانستان به ایجاد ویب‌سایت‌ها و پلتفارم های آنلاین پرداخته‌اند که این امر به تسهیل در خرید و فروش کالاها، خصوصاً در بازارهای بین‌المللی کمک کرده است. شرکت‌های خصوصی با ایجاد فرصت‌های کار برای مردم و تقویت شبکه‌های تجارتی، سهم خود را در رشد اقتصادی و تجارتی کشور ایفا کرده‌اند. بخش خصوصی با تمرکز بر بهبود سطح مهارت‌های نیروی کار و آموزش کارآفرینان جدید، به رشد تجارت و افزایش حجم تبادل کالا و خدمات در کشور کمک می‌کند.

## نقش حکومت‌ها در رشد تجارت

حکومت‌ها به عنوان یکی از ارکان اصلی در شکل‌دهی به سیاست‌های اقتصادی و تجارتی کشورها، نقش بسزایی در رشد تجارت ایفا می‌کنند. دولت‌ها با تدوین سیاست‌های تجارتی و اقتصادی می‌توانند محیطی مناسب برای رشد تجارت ایجاد کنند. این سیاست‌ها شامل تعرفه‌ها، قوانین واردات و صادرات، سیاست‌های اسعاری و تنظیم مقررات گمرکی است که در نهایت به تسهیل یا پیچیدگی جریان تجارتی منتهی می‌شود. به علاوه، حکومت‌ها می‌توانند از طریق امضاء توافق‌نامه‌های تجارتی دو جانبه یا چندجانبه با سایر کشورها، بازارهای جدید برای صادرات تولیدات و محصولات داخلی فراهم کنند. حکومت ها زیر بناهای اقتصادی و تجارتی لازم را فراهم می‌کند. این زیربناها شامل سرک‌ها، بنادر، میدان های هوایی، خطوط آهن، شبکه‌های ارتباطی و سیستم‌های مالی است که انتقال کالا و خدمات را تسهیل می‌کند. همچنان حکومت‌ها با ایجاد محیطی امن و پایدار برای سرمایه‌گذاری، زمینه جذب سرمایه‌های داخلی و خارجی را فراهم و این امر به رشد تجارت کمک می‌کند. یکی از وظایف مهم حکومت‌ها، حمایت از سکتور خصوصی است. حکومت‌ها با اعطای مشوق‌ها، کاهش مالیات، ایجاد محیطی رقابتی و فراهم آوردن منابع مالی ارزان، می‌توانند سکتور خصوصی را ترغیب به سرمایه‌گذاری در بخش‌های تجارتی نماید. این نوع حمایت‌ها موجب رشد کسب و کارها و در نتیجه افزایش تجارت می‌شود. حکومت‌ها همچنان از طریق دیپلماسی اقتصادی و روابط بین‌المللی می‌توانند مسیرهای جدید برای رشد تجارت ایجاد کنند. روابط سیاسی و اقتصادی مستحکم با کشورهای دیگر می‌تواند منجر به تسهیل صادرات و واردات، کاهش موانع تجارتی و افزایش همکاری‌های تجارتی شود. حکومت‌ها باید با همکاری سکتور خصوصی سیاست‌های تجارتی مناسب تدوین کنند که به نفع هر دو طرف باشد. این سیاست‌ها می‌توانند شامل تعرفه‌های حمایتی، تسهیل در پروسه های گمرکی، افزایش تسهیلات مالی و معرفی مشوق‌های صادراتی باشد. این تعامل می‌تواند منجر به رشد تجارتی پایدار و بلندمدت شود. حکومت‌ها می‌توانند با همکاری بخش خصوصی در پروژه‌های بزرگ زیربنایی مانند ساخت و توسعه بنادر، میدان های هوایی، سرک‌ها و شبکه‌های ارتباطی، به تسهیل تجارت کمک کنند و می‌تواند موجب افزایش کارایی و سرعت در تعاملات تجارتی شده و هزینه های اضافی را کاهش دهد. حکومت ها و سکتور خصوصی می‌توانند به طور مشترک در زمینه تحقیق و سرمایه‌گذاری کنند. این نوع همکاری موجب تولید محصولات ابتکارانه و بهبود جریان تولیدی می‌شود که در نهایت موجب افزایش کیفیت کالاهای صادراتی و گسترش بازارهای جدید می شود. یکی از نیازهای اساسی برای رشد تجارت، داشتن نیروی کار متخصص است. حکومت‌ها و سکتور خصوصی می‌توانند در راستای توسعه منابع انسانی با هم همکاری کنند. برنامه‌های آموزشی و حرفه‌ای می‌تواند به تقویت مهارت‌های تجارتی و اقتصادی نیروی کار کمک کرده و زمینه را برای توسعه صادرات و تجارت فراهم آورد. سیاست های اقتصادی حکومت‌ها می‌توانند تأثیر زیادی بر موفقیت یا شکست شرکت‌های خصوصی داشته باشند. حکومت ها از طریق ایجاد قوانین و مقررات حمایتی، کاهش مالیات، فراهم کردن زیرساخت‌های لازم و ایجاد یک محیط رقابتی سالم، از سکتور خصوصی حمایت کنند. از طرف دیگر، حکومت‌ها باید نظارت‌های دقیقی بر عملکرد بخش خصوصی داشته باشند تا از سوءاستفاده‌ها و فساد جلوگیری کنند و اطمینان حاصل شود که فعالیت‌های اقتصادی مطابق با اصول قانونی و اخلاقی انجام می‌شود.

## اقدامات امارت اسلامی در بخش حمایت از سکتور خصوصی

امارت اسلامی اهمیت سکتور خصوصی را درک کرده و برای این بخش تسهیلات زیادی فراهم کرده است. امارت اسلامی افغانستان از طریق اصلاحات سعی کرده که بسترهای لازم برای رشد تجارت داخلی و خارجی را فراهم نموده و سیاست های تجارتی خود را به‌طور مداوم بهبود بخشد. برخی از اصلاحات در این راستا شامل کاهش تعرفه‌های گمرکی، تسهیل قوانین واردات و صادرات و بهبود پروسه های گمرکی است. این اصلاحات هدف اصلی خود را تسهیل تجارت بین المللی و کاهش موانع تجارتی داخلی قرار داده‌اند. برای سرمایه‌گذاران فرصت‌های خوبی برای سرمایه‌گذاری و برای تاجران تسهیلات در بخش تجارت فراهم کرده است. برای صنعت‌کاران تمام امکانات مورد نیاز آنها مانند برق را تأمین کرده و از آنها به طور کامل حمایت می‌کند. مسؤلان امارت اسلامی افغانستان در سخنرانی‌های خود همواره گفته است که با تقویت امنیت سرتاسری در کشور و کاهش سطح فساد، اکنون زمینه مناسبی برای هر نوع سرمایه‌گذاری بزرگ، متوسط و کوچک فراهم شده است. به گفته آنان امارت اسلامی با اجرای سیاست‌های مؤثر در زمینه جایگزینی واردات، از صنایع داخلی حمایت کرده که این نقش مهمی در تقویت اقتصاد ملی کشور دارد. همچنان آخرین گام که امارت اسلامی در راستای حمایت از سکتور خصوصی برداشته است، ایجاد صندوق حمایت از سکتور خصوصی بوده است. محترم ملا عبدالغنی برادرآخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسم افتتاح این صندوق ایجاد آنرا را در راستای حمایت از سکتور خصوصی و فراهم کردن تسهیلات لازم برای آنها مهم دانسته و گفتند که این اقدام باعث تسریع روند رشد تجارت، ترانزیت، صنعت و تولیدات داخلی و ایجاد فرصت‌های شغلی برای مردم خواهد شد. محترم ملا صاحب افزود که حمایت از سکتور خصوصی، ایجاد زمینه‌های سرمایه‌گذاری برای سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی و توسعه صنایع داخلی اولویت امارت اسلامی است . علاوه بر این، امارت اسلامی تعرفه های گمرکی را برای کالاهایی که در داخل کشور تولید می



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونیزه آبادي
هفته‌نامه آبادی


شوند و می‌توانند نیازهای مردم را تأمین کنند، افزایش داده است. همچنین قوانین آسان، نیروی کار ارزان، بازار استفاده نشده دیگر عواملی هستند که می‌توانند برای سکتور خصوصی مفید واقع شوند. از این رو، واضح است که امارت اسلامی با توجه به اهمیت سکتور خصوصی، تلاش‌های خود را برای تقویت این سکتور انجام داده است و اکنون سکتور خصوصی باید مسئولیت خود را درک کرده و به خوبی انجام دهد. این کار باعث رشد تمام بخش‌های کشور خواهد شد و در نهایت رشد اقتصادی کشور آغاز خواهد شد. تلاش‌های حکومت در جذب سرمایه‌گذاری‌های خارجی به‌ویژه در بخش‌های معادن، انرژی و زیربناها، می‌تواند به رشد تجارت و تقویت بخش‌های مختلف اقتصادی کمک کند. افغانستان از نظر موقعیت جغرافیوی در مرکز آسیا قرار دارد و می‌تواند به عنوان یک دهلیز تجارتی برای کشورهای منطقه عمل کند. امارت اسلامی سعی کرده است روابط خود را با کشورهای همسایه و منطقه بهبود بخشد تا بازارهای جدیدی برای اموال صادراتی ایجاد کند.

## نتیجه گیری

سکتور خصوصی به عنوان یکی از ارکان کلیدی در تجارت کشورها، نقش‌های متعددی از جمله رشد اقتصادی، ایجاد اشتغال، نوآوری، گسترش تجارت بین‌المللی و تسهیل پروسه های اقتصادی ایفا می‌کند. اگرچه این بخش از اقتصاد به دلایل مختلفی می‌تواند چالش‌هایی را نیز به همراه داشته باشد، اما با نظارت مناسب و ایجاد سیاست‌های حمایتی، می توان از مزایای آن بهره‌برداری کرد و رشد و توسعه پایدار اقتصادی را تضمین نمود. امارت اسلامی اهمیت سکتور خصوصی را درک و برای این بخش تسهیلات زیادی فراهم کرده است. امارت اسلامی افغانستان از طریق اصلاحات اقتصادی و تجارتی سعی نموده بسترهای لازم برای رشد تجارت داخلی و خارجی را فراهم کند. افغانستان در سال های اخیر تلاش کرده که سیاست‌های تجارتی خود را به‌طور مداوم بهبود بخشد. برخی از اصلاحات در این راستا شامل کاهش تعرفه‌های گمرکی، تسهیل قوانین واردات و صادرات، و بهبود پروسه های گمرکی است. تعامل سازنده میان حکومت و سکتور خصوصی می‌تواند به بهبود وضعیت اقتصادی و اجتماعی کشورها کمک کند و فرصت‌های جدیدی را برای پیشرفت در تجارت جهانی ایجاد نماید. نقش مشترک حکومت و سکتور خصوصی در رشد تجارت کشورها حائز اهمیت است. این دو بخش با همکاری نزدیک می‌توانند زمینه‌های لازم برای رشد اقتصادی، نوآوری، افزایش صادرات و بهبود زیربناها فراهم آورند. حکومت‌ها با تدوین سیاست‌های حمایتی و فراهم آوردن محیطی مناسب برای فعالیت‌های اقتصادی و تجاری، می توانند نقش تسهیل‌کننده داشته باشند. از سوی دیگر، سکتور خصوصی با نوآوری، رقابت و مشارکت در بازارهای جهانی می‌تواند به رشد تجارت و ارتقای جایگاه کشور در اقتصاد جهانی کمک کند. در نهایت، تعامل سازنده و هم افزای این دو بخش می‌تواند منجر به توسعه پایدار و شگوفایی تجارت کشورها گردد.

# THE NEED FOR INNOVATION IN **AFGHANISTAN'S EXPORTS**



By Zahid Khalili

## Introduction

Afghanistan holds significant economic value in the region due to its unique geographic location. Although Afghanistan is primarily a consumer and import-dependent country, its exports also constitute an essential part of its economy. To achieve economic stability and support domestic production, it is crucial to expand and strengthen foreign trade. The development and reinforcement of foreign trade largely depend on aligning exports with international market demands. For this purpose, Afghan traders must introduce innovation in their exports. This will not only strengthen Afghanistan's industry and agriculture, fostering economic stability and progress, but also ensure Afghan traders establish and sustain a consistent presence in the global market. This article provides a brief overview of Afghanistan's exports, the need for innovation in this area, and strategies for fostering such innovation.

## Afghanistan's Exports

Although Afghanistan is primarily a consumer and import-dependent country, it has the potential to export a wide range of goods. The main export items of Afghanistan include dried and fresh fruits, precious and semi-precious stones, coal, carpets, non-alcoholic beverages, steel rods, saffron, and others.

Exports play a crucial role in strengthening Afghanistan's domestic economy and creating employment opportunities. In 2024, Afghanistan exported goods worth approximately $2

billion to other countries. As a result of the efforts of the Islamic Emirate, Afghanistan is now self-sufficient in 137 types of goods. The production of these goods has reached a level that satisfies domestic needs, with surplus quantities being exported to other countries.

The Islamic Emirate aims to transform Afghanistan into an export-oriented and industrialized country. However, one way to increase the current level of exports is through innovation, which can help Afghan products reach more international markets.

## What is Innovation and Why is it Important?

Experts define innovation as new methods, ideas, or services that have significant impact and value. Innovation involves creative concepts that produce tangible results and foster efficiency. Innovation is as essential in exports as in other areas. For successful exports and sustained competitiveness in the market, traders and industrialists must incorporate innovation into their products. Innovation in exports paves the way for economic growth and sustainable development.

The purpose of innovation in exports is not merely to increase the volume of exports but to adopt strategies that enhance quality, introduce diversity, and increase the overall value of exported goods. Innovations can lead to the creation of new products or improve existing ones. They transform traditional exports into modern, market-oriented forms, contributing to increased export levels and better market penetration.

In today's competitive global marketplace, only those who can innovate and adapt will succeed. Competitiveness in exports cannot be achieved without innovation. Therefore, to secure a foothold in the international market, traders must innovate in their products to avoid being phased out. For instance, a carpet trader aiming to compete in the global market must design carpets according to contemporary demands, incorporating new patterns and designs. The trader must also focus on improving the quality of materials used. Outdated designs or poor-quality materials can lead to unsold products and financial losses. A lack of innovation may eventually result in the trader losing their market position and facing business decline.

Similarly, the export of dried and fresh fruits also requires innovation, especially in terms of standard packaging. For example, traders should use environmentally friendly and health-conscious packaging materials. They should also provide online sales options and use QR codes to align exports with global market demands, ensuring better access to international markets and increased export volumes.

The Islamic Emirate is striving to foster innovation in exports by establishing processing zones in commercial hubs across the country. These initiatives aim to ensure that Afghan exports meet international standards and gain a competitive edge in global markets. Innovation in exports is vital for Afghanistan's economic stability, sustainable development, expansion of trade relations, boosting national confidence, and creating job opportunities.



## Ways to Innovate

Innovation does not occur spontaneously; rather, it is a result of human effort to adapt and evolve in response to the demands of the time. Like other sectors, exports require innovation, and failure to innovate in a timely manner can lead to significant economic challenges for a country. There are several ways to foster innovation, two of which are highlighted below:

### 1. Investing in Research:

Research is critical. One of the secrets behind the progress of Western countries is their emphasis on research-oriented thinking and the presence of research institutions. Numerous research and academic centers in these countries provide guidance and formulate policies. Afghanistan lacks such infrastructure in this area. It is essential to establish research centers—whether large or small—to investigate market demands for innovation and keep stakeholders informed. Investing in research is not a loss; on the contrary, it benefits the nation and the economy.





**2. Education and Skill Development:** The world is changing rapidly. To closely observe these changes and acquire the necessary knowledge, it is vital to send individuals abroad for practical training. These individuals can learn techniques firsthand and bring their expertise back to their country for implementation. Therefore, having skilled and experienced workers is crucial for the economic advancement of any nation.

## Conclusion

Innovation in exports is a necessity of the time, and traders must align their efforts with market demands. Such innovations are essential for the growth of trade, economic stability, and progress of the country. Innovation contributes to national confidence and the creation of employment opportunities.



To survive and compete in the global market, it is imperative to introduce innovations in exports. Traders must stay informed about global market trends and demands and tailor their exports accordingly to avoid being excluded from the market.

# THE IMPORTANCE OF THE INDUSTRIAL ZONES LAW



The Industrial Zones Law was ratified by His Excellency Amir al-Mu'minin Sheikh Hibatullah Akhundzada (may Allah protect him) on August 04, 2024. The law consists of a preamble, six chapters, 11 sections, and 67 articles.

The purpose of this law is to enhance and develop Afghanistan's economy through the regulation of industrial zones. Other objectives include creating an environment conducive to attracting and encouraging private investment, as well as ensuring the management, maintenance, and oversight of industrial zones.

The law clearly outlines the governance and supervision of industrial zones, the composition, responsibilities, and authorities of the designated board, and the procedures for establishing Emirate, private, and joint industrial zones. It also details the allocation of land for such zones and specifies the criteria for distributing land to applicants seeking to establish industrial areas.

The law obligates industrialists to adhere to environmental protection, labor-related provisions, and other legislative documents, ensuring that industrial and production unit waste and surplus materials are not disposed of in places other than specified.

The need for a dedicated law governing industrial zones was strongly felt. With the enactment of this law, industrial zones and their activities are now brought under a defined framework and governed by established principles.

Laws are enacted in a country to improve the well-being of its people and promote societal progress. This law is expected to advance Afghanistan's industrial sector, create new job opportunities, reduce unemployment, and play a significant role in environmental protection.

Additionally, the implementation of this law will systematize and attract investments, leading to further economic growth in the country.